# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## له ناورین څخه د پاکستانۍ کلدارې د وتلو لپاره د اسلام نقشه



له څه وخت راهیسې په پاکستان کې د واک څښتنان د پاکستاني کرنسۍ له ناورین سره مخ دي. دوی له دغه ناورین څخه د وتلو روښانه لار نه شي پیدا کولی. د بودیجې لپاره تیاری د دې یو ثبوت دی. په پاکستان کې د کرنسۍ اوسنی ناورین د دغه هیواد د مشرانو له لوري د یوه ځانګړي پولي چارچوکاټ د پلي کولو پایله ده. پاکستان د بې پشتوانې کرنسۍ ماډل پلی کوي او د خپلې کرنسۍ ارزښت یې له امریکایي ډالر سره تړلی دی. په دغه ماډل کې د کرنسۍ ارزښت د اقتصاد په تولیدي ظرفیت، د بهرنیو اسعارو زېرمو او د دغو اسعارو په ترلاسه کولو کې د پاکستان په وړتیا پورې تړلی. کله چې د پاکستان د ودې کچه راټیټه شي، د ډالر تر اغېز لاندې بهرنیو اسعارو زېرمه یې هم کمېږي او د بهرنیو اسعارو د تولید وړتیا هم ورسره راټیټېږي. له دې سره د پاکستانۍ روپۍ ارزښت رالوېږي او د پاکستان مسلمانانو ته د انفلاسیون د ستونزو څپې راوړي.

سره له دې چې د مالیې وزیر د وضعیت د ښه کېدو ډاډ ورکړ، خو پلانونه به یې ناکام شي. د پاکستان د کرنسۍ ناورین به په ځانګړې کچه د ډالر- کلدارې د تبادلې نرخ ټاکلو یا د بازار پر اساس د تبادلې نرخ په کارولو سره حل نه شي. دا دواړه مفکورې د بې پشتوانې اسعارو د یوه پولي ماډل دوې نسخې دي؛ په دې کې کرنسي له ځانه هېڅ داخلي ارزښت نه لري؛ بلکې خپل ارزښت له نورو فکتورونو اخلي، لکه د هېواد اقتصادي ځواک، د هېواد د نړیوالې سوداګرۍ جوړښت او د ډالرو ارزښت او لاسرسيوالی. نو د واک او قدرت څښتنان هېواد د کرنسۍ له دغه ناورین څخه نه شي ژغورلی.

اسلام خپل پولي چوکاټ لري. اسلام دا لازمي کړې چې د دولت کرنسي باید د قیمتي فلزاتو پشتوانه ولري؛ دا د انفلاسیون اصلي لامل او د کرنسۍ ناورین ختموي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د سرو زرو سکې یا دینار

(چې وزن يې ۴,۲۵ گرامه و) او د سپينو زرو سکې يا درهم (چې وزن يې ۲,۹۷۵ گرامه و) د دولت د کرنسۍ په توگه تاييد کړې. سره او سپين زر له ځانه ارزښت لري او ارزښت يې د يوه هېواد په اقتصادي ځواک او د بهرنيو اسعارو د زيرمو په کچه پورې اړه نه لري. کله چې په سوداگرۍ کې کسر رامنځ ته کېږي او د دولت سره او سپين زر له دولت څخه د باندې وځي، د سرو او سپينو زرو کچه ورسره کميږي او د دولت په داخل کې بيې ورسره راټيټېږي. د بيو دغه ټيټېدل د دولت د صادراتو په لوړېدو کې مرسته کوي او په پايله کې يې د دولت خزانو ته پرېمانه سره او سپين زر راځي. نو سره او سپين زر له ځانه اصلاحي مېکانېزم لري او په سوداگرۍ کې د کسر ستونزه په اتومات ډول پخپله حلوي.

مسلمانانو ته د دې جواز نشته چې د کرنسۍ د ناورين د ستونزې لپاره د اسلام حللاره د ډيموکراسۍ له لارې پلې کړي. په ډيموکراسۍ کې بشري پرېکړې د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له اوامرو لوړې گڼل کېږي. يوازې د اسلام د حکومتولۍ سيستم، خلافت دی چې د مسلمانانو د ستونزو د حل لپاره د اسلام حللارې پلې کوي. د نبوت پر منهج خلافت به دينار او درهم د اسلامي دولت د کرنسۍ په توگه وټاکي؛ د پاکستان د کرنسۍ ستونزې به د تل لپاره حل کړي او د باثباته پيسو دود کولو له لارې به سوکاله ژوند راولي. نو اې مسلمانانو، د نبوت پر منهج د خلافت د بيا تاسيس لپاره له حزب التحرير سره کار وکړئ. اې د پاکستان په وسله والو ځواکونو کې مسلمانانو! حزب التحرير ته همدا اوس نصرت ورکړئ چې هغه بدلون راولئ چې ټول اسلامي امت ورته په تمه دی او دعا ورته کوي.

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۱۸مه**

**۲۰۲۳م کال، د جون ۷مه**

**د صدور گڼه: ۴۰/ ۱۴۴۴**

**ژباړه: فريدون محتاط**